د لوړو زده کړو وزارت

وردگ د لوړو زده کړو مؤسسه

اقتصاد پوهنځی

## د اقتصاد پوهنځی موخې:

1. د اقتصاد علم څخه په استفادې په ملي او سیمه ایزه کچه د اقتصادي ستونزو پیژندل، کاروباری چاپیریال تحلیلول او د ستونزو د حل په موخه د تصامیم نیولو وړتیا درلودل.
2. اقتصادي هوساینې ته د رسیدو لپار د ټو لنې په هر اړخیزه پرمختګ کې برخه اخیستل؛ په محصلینو کې ملي احساس رامنځته کول او ذهنیت یې د ټولنې د خدمت په موخه لوړو ارزښتونو ته قایلول.
3. د مرکزي بانک او دولتي پالیسیو په اقتصادي اهمیت او اغیزو باندي پوهېدل. او د بازار د غوښتنو سره سم د زده کړو سیستم عیارول.
4. د ټولنې د اړتیاوو د رفع کولو پر بنا په پوهنځي کې د اړینو څانګو را منځته کول. او د پوهنځی دبهبود او پرمختګ په موخه د اداری او علمي کادر غړو د ظرفیت لوړاوي زمینه برابرول.
5. د پوهنځي په کچه د شته تحصیلي نصاب، پالیسیو او لوایحو بیاکتنه او د ټولنې اړتیا ته په کتو د نوښتګرو څېړنو ترسره کول او نتیجې یې د اړونده سکتورونو او ذیصلاح مقاماتو سره شریکول.

په پورته ډول د اقتصاد پوهنځي موخې ترتیب او د پوهنځي د علمي شورا (   ) پروتوکول او   /   /   نېټه غونډه کې ثبت او تائید شوه. او د تائید څخه وروسته ستاسو درانه حضور ته د نورو اجراآتو په موخه واستول شو.